# سُورهٔ زِلْزال

## (او عبرت و نصیحت)

**30-December-2021**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# سُورۂ زِلْزال (او عبرت و نصيحت)

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِىَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي.

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د **الله** پاک د آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: چا چې دا اووئيل: جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ نو اويا فرښتے به د زرو ورځو پورې د هغه د پاره نيکئ ليکي. [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:82، حديث:235۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتینے نیت بهترین عبادت دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

❁ د عِلمِ دِین حاصلولو نِیَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❁ چې څومره کیدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❁ د علم زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❁ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

## د سُوْرَۂ زِلْزَال فضیلت

د صحابئ رسول حضرت اَنَس بِن مَالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې د سُوْرَۂ زِلْزَال تلاوت اوکړو، دا د هغه د پاره د نِصف (یعني نیم) قرآن برابر دے، چا چې د سُوْرَۂ کافِرُوْن تلاوت اوکړو، دا د هغه د پاره د

[1]...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

قرآن د څلورمې حِصّې برابر دے او چا چې د **سُوْرَۂ اِخْلاص** تلاوت اوکړو، دا د هغه د پاره د قرآن د دريمې حِصّے برابر دے.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** **سُوْرَۂ زِلْزَال** مَکِّــي (يعنې د هِجرت نه مخکښې نازِل شوے) سُورت دے ❁ په ديرشمه سيپاره کښې دے ❁ د قرآنِ کريم مختصر سُورت دے ❁ په دې سُورت کښې يوه رُکوع، 8 آيتونه، او 35 الفاظ دي.[2]

## د ټول ژوند د پاره زبردست نصيحت

سُبْحٰنَ الله! په دې 35 الفاظو کښې داسې زبردست نصيحت موجود دے، چې که مونږه صرف په دې يو نصيحت باندې په مضبوطيا سره عمل اوکړو نو زمونږه ژوند ښائسته کيدے شي. يو ځل يو کس د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته د قرآنِ کريم يو جامِع سُورت تلاوت کړئ! خوږ نبــي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ته **سُوْرَۂ زِلْزَال** واورولو، چې کله خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې سُورت مبارك مکمل تِلاوت اوکړو نو هغه کس عرض اوکړو: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي چا چې تاسو برحقه نبــي راليږلي ئې! زه به هميشه په دې باندې قائم اوسم او د دې نه به هيڅ زيات نه کووم. دا ئې اووئيل او هغه کس بيرته لاړو. په دې باندې د **الله** پاك آخري نبــي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه ځله اوفرمائيل:

---

1 …ترمذی، کتاب: فضائلُ القرآن، صفحه: 672، حديث: 2893۔

2 …تفسير صِراطُ الجنان، پاره: 30، سورۂ زلزال، جلد: 10، صفحه: 787۔

اَفۡلَحَ الرُّوَیۡجِلُ اَفۡلَحَ الرُّوَیۡجِلُ سړے کامیاب شو، سړے کامیاب شو.[1]

د حضرت زَید بِن اسلم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، یو ځل یو کس د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شو، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته ارشاد اوفرمائیلو: دې (نوي راتلونکي کس) ته قرآنِ کریم زده کړه...! هغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغه کس ته سُوۡرَۃُ زِلۡزَال زده کول شروع کړو، چې کله هغوئي د سُوۡرَۃُ زِلۡزَال ووم آیت زده کړو نو هغه کس اووئیل: بس دا زما د پاره کافي دے. هغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: یَا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ده صرف ووه آیتونه زده کړل او وائي: دا زما د پاره کافي دي. خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا پریږده! ده ته فَقَاهَت (یعني د دِین پوهه) نصیب شوې ده.[2]

**اے عاشِقانِ رسول**! معلومه شوه چې څوک د قرآنِ کریم دې 35 الفاظو (یعني مکمل سُوۡرَۃُ زِلۡزَال) باندې ځان پوهه کړي او په ذِهن کښې ئې کښینوي او د دې مطابق ژوند تیر کړي نو اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! ټول ژوند به ئې کامیاب تیر شي.

## د سُوۡرَۃُ زِلۡزَال مرکزي مضمون

بنیادي طور په سُوۡرَۃُ زِلۡزَال کښې د انسان د ذِمه وارئ بیان دے یعنې دا بیان شوي دي چې انسان په دې دُنیا کښې بے جِیلَبه [یعني بالکل په هره معامَله کښې آزاد] نه دے بلکه دا د خپل ژوند د یو یو منټ پخپله ذِمه وار دے، په دې دُنیا کښې که دا بنه

---

1 ...سننِ ابو داؤد، کتاب الصلاۃ، صفحه:230، حدیث:1399۔

2 ...تفسیر دُرِّ منثور، پاره:30، سورۂ زلزال، جلد:8، صفحه:596۔

کار اوکړي او که بد اوکړي، د ده هر يو د وړوکي نه وړوکے عمل هُم **محفوظه** ساتلے کيږي، په ورځ د قيامت به دا د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې حاضريږي او دا به د خپل هر هر عمل جواب ورکوي. غرض دا چې انسان په دُنيا کښې د څناورو په شان نه دے بلکه دا د خپل ژوند د يو يو ساعت پخپله ذِمه وار دے، ده له پکار دي چې خپل يو يو ساعت په پوره سوچ، عقلمندئ او پوره ذِمه وارئ سره تيروي. راځئ چې! د سُوْرَۃ زِلْزَال وضاحت واورو:

## د سُوْرَۃ زِلْزَال د وړومبي آيت وضاحت

**اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾

(پارہ:30، سورۂ زلزال، آیت:1)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: چې کله زمکه اورَپولے شي خنګه چې د دې رَپوَل [خوزول] مقرر دي.

زوروې جټکے چې بيا بيا راځي، هغې ته زلزله وائي.[1] زلزلے عام طور راځي او اوس جديد دَور دے، نن صبا خو د زلزلو د شِدَّت پيمائش هم کيږي. ريکټر اسکيل (*Richter Scale*) د زلزلے د شِدَّت ناپ کولو آله ده. د سائنسي وضاحتونو مطابق ❁ د 3.0 نه واخله 3.9 پورې د شِدَّت چې کومه زلزله وي، په هغې کښې مونږ ته صرف د زمکې رَپيدل [وائبريشن] محسوسيږي ❁ د 8.0 يا د دې نه زياته تيزه چې کومه زلزله وي، دا دومره تيزه وي چې پوره پوره ښارونه بربادوي او د دې په سبب د غرونو ختان

1 …مفرداتِ امام راغب، صفحه:231۔

هُم راغوزيږي ❁ په 1935 عيسوي کښې د پاکستان په ښار کوئټه کښې د 7.8 شِدَّت زلزله راغلې وه او صرف په 30 سيکنډ کښې ئې پوره ښار تباه کړے وو ❁ د پاکستان په تاريخ کښې په 2005ء کښې راتلونکې زلزلے کشمير او د خيبر پختونخواه بعضې علاقے مُتأَثِّره کړې وے، دا هُم تر اوسه پورې راتلونکو سختو زلزلو نه يوه زلزله وه، په ريکټر اسکيل باندې د دې شِدَّت 7.6 ريکارډ شوے وو، په دې زلزله کښې دومره تباهي شوي ده چې تقريباً 16 کاله تيريدو والا دي خو تر اوسه پورې لا د دې تباهۍ نُقصان نه دے پوره شوے.

## د قيامت د زلزلے د شِدَّت بيان

دا زلزلے کومې چې ناپ کيدے شي، او د زمکې په يوه خاصه حِصّه کښې تباهي راولي، د دې زلزلو راتلو يو ظاهري سبب کوم چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلے دے، هغه دا دے چې يو غټ غر دے، د هغې ځيلې په زمکه کښې دننه خورې شوي دي، په کومه زمکه چې د زلزلے راوستلو حکم اوشي، هغه غر د هغه ځائے ځيلو ته حرکت ورکړي او د هغې په وجه زلزله راځي.[1] اوس لږ غور اوکړئ! صرف د غرونو ځيلې کومې چې په زمکه کښې دننه دي، چې هغه اوږقيږي نو داسې تباهي راولي، چې انسان سخت اويروي، سائنسي آلات صرف ناپ کول کوي، زلزلے دفع کولے نه شي، اوچت اوچت عمارتونه تباه کيږي، انسان که هر څومره طاقتور شي خو بيا هم سخت اُويَريږي، اوس لږ د هغې زلزلے د سختۍ تَصَوُّر اوکړئ! چې کله به د غرونو

1 ...فتاوی رضویه، جلد:27،صفحه:93۔

ځيلې نه بلکه غرونه پخپله ريزه ريزه شي او د مالوچو په شان به په هوا کښې خواره واره شي، ستوري به د باران په شان په زمکه راولويږي، سپوږمئ او لمَر به بےنوره شي، غټې غټې سيارے به په خپل مينځ کښې اولګي او ريزه ريزه به شي.

**غور اوکړئ!** هغه وخت چې کومه زلزله راشي، آيا څوک د هغې د سختئ اندازه لګولے شي؟ آيا يوه سائنسي آله داسې شته چې د هغه زلزلے پيمائش اوکړي....؟ يقيناً بالکل نشته!!!

## د قيامت د زلزلے د يو مثال وضاحت

په غيبو باندې خبردار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت د زلزلے د سختئ يو مِثال بيان کړے دے، د حديثِ پاك خلاصه دهٔ: هغه وخت به د زمکې مثال داسې وي، لکه په سمُندر کښې چې يوه کشتئ وي، هغه کشتئ په طوفان کښې اونخښلي او د څلور وارو طرفو نه زورداري طوفاني چپے راځي او د هغې کشتئ سره لګي او د کشتئ مُسافِر پرمخ راوليږي، په څومره زور سره چې هغه کشتئ جټکے خوري، د قيامت د زلزلے د راتلو په وخت کښې به زمکه هُم دغه شان رږيږي.[1]

## د قيامت د زلزلے تباهياني

په سيپاره 17، سورۂ حج، آيت: 1 او 2 کښې **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَیْءٌ عَظِیْمٌ ﴿۱﴾ | ترجمه کنزالعرفان: بيشکه د قيامت زلزله ډير |

1 ...مُسْنَدِ اِسْحاق بن راهويه، مُسْنَدُ ابي هريره، جلد: 1، صفحه: 261، حديث: 10، ملتقطاً۔

| | |
|---|---|
| يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَ تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا (پ ۱۷، الحج، آیت:۱، ۲) | لوئي خيز دے، په کومه ورځ به چې ته هغه وينې (نو حالت به دا وي چې) هره پےۓ ورکوونکې به خپل د پئيو خښلو بچے هير کړي او هره حمل والا به خپل حمل اوغورزوي. |

خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چې کله د قيامت زلزله راشي ، هغه وخت به هره پےۓ ورکوونکې خپل د پئيو خښلو بچې هير کړي او د حمل والؤ حمل به اوغورزيږي. ماشومان به د ويرې نه بوډاګان شي، په هغه ورځ به عجيبه چغې او سُورې وي، خلق به اخوا ديخوا منډې وهي، يو بل ته به غږونه کوي.[1]

اے عاشِقانِ رسول! دا ده د قيامت زلزله...! چې کائنات به تباه و برباد کړي، د هُم دې زلزلے په باره کښې **الله** پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: چې کله زمکه اورېدلے شي څنګه چې د دې رېدل [خوزول] مقرر دي. |

## د سُوْرَۂ زِلْزَال دويم آيت وضاحت

**الله** پاک په دې دويم آيت کښې ارشاد فرمائي:

[1] ...مُسْنَدِ اِسْحَاق بن راہویہ، مُسْنَدُ ابی ہریرہ، جلد:1، صفحہ:261، حدیث:10، ملتقطاً۔

وَ اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ﴿۲﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان : او زمکه به خپل بوجونه بهَر را غوزار کړي.

د يو قول مطابق د دې آيت مطلب دا دے چې کله د قيامت زلزله راشي نو زمکه به په زوره زوره ړقيږي، په خلقو به سخته ويره او خوف وي، خلق به اخوا ديخوا منډې وهي، هغه وخت به زمکه د سرو او سپينو زرو ټولې خزانے بهَر را غوزار کړي. اِمام فخرُ الدِّين رازي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: هغه وخت به د زمکې ظاهر د سرو او سپينو زرو وغيره خزانو نه ډك شي خو څوك به خزانو طرف ته هډو ګوري نه، ګويا دا سره او سپين زر وائي چې: اے خلقو....! ❁ زه خو هغه څيز يم د څه د پاره به چې تاسو خپله دُنيا بربادوله ❁ زه خو هغه څيز يم د څه د پاره چې تاسو خپل دِين ته نُقصان رَسَولے وو.[1]

❁ آو! آو! زما د پاره به تاسو يو بل قتل کولو ❁ زما د پاره به تاسو د خپلو ورونړو سره جګړے کولې ❁ زما په لالچ کښې به تاسو خپل مور او پلار خفه کول ❁ زما د حاصلولو د پاره به تاسو منډې ترړې وهلې ❁ زما د حاصلولو په لالچ کښې به مو لمُونځونه قضا کول ❁ روژې به مو نه نيولې. خو افسوس! هغه وخت به هغه سرو او سپينو زرو ته هډو څوك ګوري هُم نه.

د حضرت ابُوهُريره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زمکه به د سرو او سپينو زرو د ستنو [پِلرو] په شان خپلې دننه خزانے بهَر ته

[1] ...تفسير کبير، پاره:30، سورۂ زلزال، زيرِ آيت:2، جلد:11، صفحه:254 مفصلاً۔

را اوباسي ❀ قاتل چې دا اووينې نو وائي به: د دې (مال) په وجه خو ما قتل كړے وو ❀ خپلولي ماتولو والا به وائي: د دې په وجه خو ما خپلولي پريښودي وه ❀ غل به وائي: د د ې مال په وجه خو ما غلا كړې وه او زما لاس كټ شوے وو. بيا به ټول هغه مال پريږدي او هيڅ څوك به ترينه څه نه اخلي.[1]

## د سُوْرَۂ زِلْزَال د دريم آيت وضاحت

**الله** پاك په دې دريم آيت كښې نور ارشاد فرمائي:

وَ قَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ۚ﴿۳﴾ [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: او انسان به وائي: په دې [زمكه] څه اوشو؟

يعني د قيامت د هغه ډيرې سختې ويرووونكې زلزلے په وخت كښې چې كوم خلق موجود وي، هغوئي به په ډيره حيرانتيا سره اووائي: په دې زمكه څه اُوشو؟ دا ولے دومره په زوره زوره خوزيږي....؟ [2]

اِمام فخر الدِّين رازي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د عُلمائے كرامو يو قول دا دے چې كوم كافِران د قيامت اِنكار كوي، چې كله قيامت قائم شي، مړي بيرته راژوندي كړے شي، نو كافِر به په حيرانتيا سره وائي: مَا لَهَا؟ په دې زمكه څه اُوشو؟[3] يعني مونږ خو هډو منل نه چې قيامت به راځي، دا څنګه راغے؟ په سُورهٔ **يٰسين** شريف كښې **الله** پاك فرمائي:

---

[1] ...مسلم، كتاب الزكاة، صفحه:363، حديث:1013۔
[2] ...تفسير صراط الجنان، پاره:30، سورۂ زلزال، زيرِ آيت:3، جلد:10، صفحه:790۔
[3] ...تفسير كبير، پاره:30، سورۂ زلزال، زيرِ آيت:3، جلد:11، صفحه:255۔

| | |
|---|---|
| مَنۢ بَعَثَنَا مِنۢ مَّرۡقَدِنَا ؔ <br>(پاره:23، سورهٔ يٰسۤ، آيت:52) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: مونږه چا د خوبه راپاڅولو؟ |

کومو مسلمانانو به چې په قيامت يقين لرلو، هغوئي به د دې کافِرو په جواب کښې اوفرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحۡمٰنُ وَ صَدَقَ الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۵۲﴾ <br>(پاره:23، سورهٔ يٰسۤ، آيت:52) | | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان : دا دے هغه د کوم چې رحمٰن وعده کړې وه او رَسُولانو حق فرمائيلي وو. |

## د سُوْرَۂ زِلْزَال د 4-5 آيت وضاحت

**اللّٰه** پاك په دې آيتونو کښې نور ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَوۡمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخۡبَارَهَا ﴿۴﴾ | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان : په هغه ورځ به هغه (يعني زمکه) خپل خبرونه بيانوي. |

يعني چې کله دا مُعامَلات اوشي، قيامت قائم شي، ټول د حشر په ميدان کښې جمع شي، نو بيا به زمکه خبرې کوي، خپل خبرونه به بيانوي، زمکه به وائي چې چا په زمکه باندې څه عمل کړے دے؟[1] خو دا به څنګه کيږي؟ ځکه چې زمکه خو ساه نه لري، د دې خو ژبه هُم نشته، بيا به زمکه څنګه خبرې کوي؟ **اللّٰه** پاك فرمائي:

---

[1] ...تفسير کبير، پاره:30، سورهٔ زلزال، زيرِ آيت:4، جلد:11، صفحه:255۔

بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ۝۵ [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: ځکه چې ستا ربّ هغې ته حكم اوليږلو.

د **الله** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته چې **الله** پاك ډير اوچت شان وركړے دے، چا ته چې **الله** پاك قُدرت عطا كړے دے، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اشاره سپوږمئ دوه ټكړے شوه، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اشاره اوكړه نو كاڼرو هم كَلِمَه اولوستله، د هغوئي په بركت بےساه څيزونه ژوندي شو، ونو او كاڼرو بُوټو د هغوئي په خدمت كښې سلام عرض كړو، چې كله د **الله** پاك په عطا د هغه خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې طاقت لري نو پخپله به د **الله** پاك د قُدرت څومره اوچت شان وي.....!! زمكه اګرچې ساه نه لري، خبرې نه كوي، ژبه نه لري، د زمكې غوږونه او سترګې نشته خو د **الله** پاك په قُدرت دا زمكه زمونږ اعمال وينې هُم او په ورځ د قيامت چې **الله** پاك حكم اوكړي نو دا زمكه به خبرې هُم كوي او زمونږ د اعمالو په باره كښې به خبرونه هُم وركوي.

## په ورځ د قيامت به زمكه ګواهي وركوي

حضرت ابُوهُريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د **الله** پاك آخري نبـي، رَسُولِ هاشِمِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آيتِ كريمه يَوْمَىٕذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ۝۴ تِلاوت كړو، بيا ئې اوفرمائيل: آيا تاسو ته معلومه ده چې د دې (زمكې) خبرونه څه دي؟ صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوكړو: **الله** پاك او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښه پوهيږي. حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د زمكې خبرونه دا دي چې زمكه به په هر نارينه او زنانه د

هغوئي د اعمالو ګواهي ورکوي کوم چې هغوئي د دې د پاسه کړي دي، هغه [يعني زمکه] به وائي: دې کس په فلانئ ورځ دا عمل کړے وو او هغه کس په فلانئ ورځ دا عمل کړے وو، هُم دا د دې خبرونه دي.[1]

د مسلمانانو د څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا عادت مبارك وو چې هغوئي به کله د بَيْتُ الْمَال نه خزانه تقسيم کړه نو هلته به ئې لمُونځ ادا کولو او د بَيْتُ الْمَال ديوالونو او د هغې زمکې ته به مخاطَب کيدلو او فرمائيل به ئې: اے د بَيْتُ الْمَال ديوالونو! تاسو ګواه شئ! ما په حق سره په تاسو کښې خزانه اچولې وه او په حق سره مې خرچ کړه.[2]

اے عاشِقانِ رسول! دا زمکه خو به په ورځ د قيامت ګواهي ورکوي، لِهٰذا په دې باندې ډير په احتياط سره اوسيدل پکار دي، مونږ له پکار دي چې مونږه زمکه په خپلو نيکو ګواه جوړه کړو، په زمکه لمُونځ اوکړو، د اللّٰه د ذِکر کولو په ذريعه دا زمکه، دا ونې، کانړي بُوټي او د زمکې شکې خپل ګواه جوړ کړو.

## لاره به ئې د ذِکْرُ الله ګواه جوړوله

د يو بُزُرك حضرت اَبُو الْمَلِيْح رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ عادتِ مبارَکه وو چې چرته به تللو نو په لاره به ئې ذِکْرُ الله کولو، چې کله به ترينه ذِکر کول هير شو نو بيرته به را ګرځيدلو او بيا به په هُم هغه لاره راروان شو او ذِکْرُ الله به ئې کولو، او فرمائيل به ئې: زه غواړم چې

---

[1] ...ترمذی، صفحه:577، حديث:2429۔

[2] ...تفسير کبير، پاره:30، سورۂ زلزال، زيرِ آيت:4، جلد:11، صفحه:255۔

زه د زمکې په کومه حِصَّه تير شم هغه په ورځ د قيامت زما د ذِکرُ الله ګواهي ورکړي.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! زمونږ د بُزُرګانِ دينو کيفيات څومره ښکلي وو. اوس غور اوکړي چې مونږه زمکه په کومه خبره ګواه جوړوو. په خپلو نيکو يا په خپلو ګناهونو؟

خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: تَحَفَّظُوۡا مِنَ الۡاَرۡضِ يعني د زمکې نه بچ اوسئ...! فَاِنَّهَا اُمُّكُم بيشکه دا ستاسو اصل دے، وَاِنَّهٗ لَيۡسَ مِنۡ اَحَدٍ عَمِلَ عَلَيۡهَاخَيۡرًا وَّ شَرًّا اِلَّا هِيَ مُخۡبِرَةٌ کوم بنده چې په دې زمکه باندې د ذرے همره نيکي اوکړي يا بدي اوکړي، په ورځ د قيامت به دا زمکه د هغه په باره کښې ګواهي ورکوي.[2]

## ووه لُوتې غرونه جوړ شو

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زمونږ د بزرګانو عادت وو چې هغوئي به زمکه د خپل ايمان ګواه جوړوله. سيِّدي اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت شاه اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه يو ځل جبل پور (هِند) ته تشريف يوړلو، هلته هغوئي د غرونو په خوا تيريدلو، هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه سره چې کوم مُريدان او نور خلق وو هغوئي مختلفې خبرې کولې، په دې باندې پير کامِل سيِّدي اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه اُوفرمائيل: په کلمه وئيلو باندې دا غرونه خپل ګواهان ولے نه جوړوئ--!! بيا ئې يوه ايمان تازه کوونکې واقعه بيان کړه، اُوئې فرمائيل: د يو صاحِب معمول وو چې ووه لُوتې د جُمات نه بهر پرتے وې، کلمهٔ شهادت به ئې اُووئيله او

---

1 ...تَنۡبِيۡهُ الۡمُغۡتَرِّيۡن، صفحه:88۔
2 ...۔

هغه به ئې د خپل ايمان ګواه جوړې کړې، دغسې چې کله به بيرته تللو نو بيا به ئې هغه په خپل ايمان ګواه کړلې. د هغوئي د وفات نه پس فرښتو هغوئي د جَهنَّم طرف ته روان کړو، هغه ووه واړه لُوټې غرونه جوړې شوې او د جَهنَّم ووه واړه دروازے ئې بندې کړې او اُوئې وئيل: مونږه د ده د کلمۀ شهادت ګواه يُو. دغسې لُوټې د خپل ايمان ګواه جوړلو په بَرَکت هغوئي د جَهنَّم نه نجات حاصل کړو. بيا سيِّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه تولو ته ترغيب ورکولو د پاره اوفرمائيل: چې لُوټې غرونه جوړې شوې او د جَهنَّم نه رُکاوټ جوړې شوې نو دا خو غرونه دي. دا ئې چې واوريدل نو ټولو خلقو په اوچت آواز کلمۀ شهادت وئيل شروع کړه. [1]

جانشينِ اميرِ اَهلِسُنَّت، الحاج مولانا عُبَيد رضا عَطّاري مَدَني مَدَّظِلُّهُ الْعَالِي فرمائي: د 1418 هجري خبره ده، مونږ په شارجه کښې وو، يو ځل په يو ځائے تيريدلو نو شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطَّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د يوے وَنې لاندې اودريدلو او په اوچت آواز ئې کلمۀ طَيِّبه اُووئيله، چا ترينه د وجهې تپوس اوکړو نو اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما دې ونې ته په اچت آواز کلمه واروله نو په خپل ايمان مې ګواه جوړه کړه.

د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ښکلې ادا دا هُم ده چې هغوئي ډير ځله د مدينے مُنَوَّرے پاکيزه ونو ته کلمه اوروَلې ده او د خپل ايمان ګواه ئې جوړې کړې دي. چنانچه په خپل يو شعر کښې ليکي:

---

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:313 خلاصةً۔

پڑھ پڑھ کے سُنایا ہے انہیں کلمۂ طیب | ایماں پہ ہیں شاہِد مرے اَشْجارِ مدینہ[1]

**د شعر مفهوم:** ما د مدینے مُنَوَّرے وَنو ته څو څو ځله کلمهٔ طَیِّبه اَورولې ده، د مدینے وَنې زما په ایمان باندې ګواه دي.

**اللّٰه** پاک دِ مونږ ته هُم زمکه، ونې، کانړې وغیره د خپلو نیکو او د خپل ایمان د ګواه جوړولو توفیق را کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سورۂ زِلْزال د آیت نمبر:6 وضاحت

سُورهٔ زِلزال، آیت: 6 کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| یَوْمَىٕذٍ یَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ﳔ لِّیُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ؕ(۶) | | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: په هغه ورځ به خلق د خپل رب په طرف ګرځي په ډیرو لارو [تقسیم] شوي، د پاره د دې چې خپل کړي [اعمال] ور اُوښودلے شي. |

د دې آیت یوه معنٰی دا ده چې په ورځ د قیامت به چې کله د قبرونو نه اوچتولے کیږي نو خلق به د محشر د میدان په طرف ځي او په مختلفو حالتونو کښې به وي، د چا مخ به سپین وي، د چا به تور وي، څوک به په سَوَرلۍ سور وي او څوک به په زنځیرونو او بیړو کښې کلک تړلے شوے پیدل روان وي، څوک به د امن په حالت کښې وي او څوک به په ویره کښې وي. او دا ټول خلق به د میدانِ مَحشر په طرف ولے ځي؟ د پاره د دې چې دوئي ته د دوئي اعمال اُوښودلے شي.[2]

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:361۔

2...تفسیر صراط الجنان، پارہ:30، سورۂ زلزال، زیرِ آیت:6، جلد:10، صفحہ:792۔

## د سُورۂ زِلزال د آیت: 7–8 وضاحت

د سُورۂ زِلزال په آخري دوو آیتونو کښې **اللہ** پاک فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| فَمَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّۃٍ خَیۡرًا یَّرَہٗ ؕ﴿۷﴾ وَ مَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّۃٍ شَرًّا یَّرَہٗ ﴿۸﴾ | | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو څوک چې د یوے ذرّے همره نېکړه اوکړي هغه به وِیني او چې څوک د یوے ذرّے همره بدي اوکړي هغه به وِیني. |

دا دے زمونږه د ذِمه داریٔ بیان...! که مونږه د نِیم مِنَټ نیکي هُم اوکړو نو هغه به محفوظه اُوساتلے شي او که د یو څو سیکنډو ګناه اوکړو نو هغه به هُم محفوظه اُوساتلے شي او په ورځ د قیامت به زمونږ مخې ته کېښودلے شي. لِهٰذا په مونږ لازم دي چې مونږه د خپل مختصر ژوند یو یو ساعت په ذِمَّه داریٔ سره تیر کړو څکه چې په ورځ د قیامت به زمونږ د وړوکي نه وړوکے عمل زمونږ مخې ته راوړلے شي.

## وخت بربادول د مسلمانئ انداز نه دے

مونږ ډیر کارونه "**هسې (یعني فُضُول)**" کوو، بازار ته ولے تلے وې؟ **هسې تلے ووم**. په موبائل څه ګورې؟ **هیڅ نه بس هسې**. فلانکے کار دِ ولے اوکړو؟ **بس هسې**. دوستانو سره دِ څه کول؟ **هیڅ نه بس هسې ټائم مې پاس کولو**. غور اوکړیئ دا چې کوم "**هسې (یعني بے وجه فُضُول)**" دے، یقین اوکړیئ چې دا د یو مسلمان په خُله هډو ښه نه ښکاري، مسلمان په ورځ د قیامت ایمان لري، زمونږ عقیده ده چې په ورځ د قیامت د **اللہ** پاک په بارګاه کښې ضرور حاضریدل دي، زمونږ نه به د یوے یوے خبرې په باره کښې تپوس کیږي، نو بیا دا څنګه کیدے شي چې په مونږ کښې څوک یو کار بے سوچه "**هسې**" یعني فُضُول اوکړي؟

حضرتِ شُرَیح رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه دوه کسان په فُضُول کار کولو اولیدل، نو اُوئې فرمائیل:

اَلْفَارِغُ مَا اُمِرَبِهٰذَا یعني فارِغ کس ته د دې کار حُکم نه دے ورکړے شوے، **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ﴿۷﴾ (پ۳۰، الشرح:۷) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : نو چې کله ته وزګار ئې نو ډېر ډېر کوشش کوه. |

یعني خپل وزګار وخت په عبادت کښې استعمال کړه، مطلب دا چې کله د یو عبادت نه فارِغ شې نو بل عبادت شروع کړه او یو وخت هُم د عبادت نه فارغه مه پاتې کیږه ځکه چې د عالَم د پیدا کولو اصل مقصود هُم دا دے. (1)

زِندگی آمد برائے بندگی | زندگی بے بندگی شرمندگی

**وضاحت:** یعني ژوند د اللّٰه پاک د عبادت د پاره دے، د عبادت نه بغیر ژوند، ژوند پاتې نه شي بلکه شرمِندګي جوړ شي.

## د صبا اِنتِظار مه کوئ

یو مصیبت دا هُم ډېر عام دے چې: فلانکے کار به صبا اوکړم. ډېر خلق د نفس و شیطان په دوکه کښې راشي او خپل ځان ته د دروغو تسلي ورکوي، مَثَلًا زه به د صبا نه نیکۍ شروع کووم، د دې جُمعے نه به نیک جوړیږم. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه به لمونځونه شروع کووم. صبا به توبه کووم وغیره. دا هسې د نفس او شیطان دوکه ده. لږ غور خو اوکړئ! د صبا راتلو پورې یا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د راتلو پورې چې کوم وخت دے نو دا وخت خو هُم زمونږ د ژوند حِصَّه ده، په ورځ د قیامت که رانه د دې وخت حساب واخستلے شو نو زمونږ به څه کیږي...!

ہے یہاں سے تجھ کو جانا ایک دِن | قبر میں ہو گا ٹھکانا ایک دِن

---

1...انوارِ جمالِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، ص۳۲۳ بتغیر قلیل۔

| | |
|---|---|
| منہ خُدا کو ہے دکھانا ایک دِن | اب نہ غفلت میں گنوانا ایک دِن |
| ایک دِن مرنا ہے آخر موت ہے | کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے |
| ځې به دې دُنيا نه يوه ورځ | قبر کښې به خښ شې ته يوه ورځ |
| حاضرېږې به الله ته يوه ورځ | بس نور غفلت مه کوه يوه ورځ |
| مرې به ته ضرور يو ورځ دِ مرګ دے | څه چې کرې کوه يو ورځ دِ مرګ دے |

## يوه بدي هُم نه شي پټېدے

اے عاشقانِ رَسُول! او زمونږه د ژوند يو ساعت هُم د **الله** پاک نه نۀ شي پټيدے، په ورځ د قيامت به زمونږه د وړوکي نه وړوکے عمل هُم مونږ ته مخامخ کړے شي. حضرتِ لُقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يو ځل خپل ځوئ ته نصيحت اوکړو، هغه نصيحت په قرآنِ کريم کښې **الله** پاک داسې بيان کړے دے:

| | | |
|---|---|---|
| يٰبُنَيَّ اِنَّهَآ اِنۡ تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٍ مِّنۡ خَرۡدَلٍ فَتَكُنۡ فِيۡ صَخۡرَةٍ اَوۡ فِي السَّمٰوٰتِ اَوۡ فِي الۡاَرۡضِ يَاۡتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ (پ:۲۱، سورۂ لُقمان، آيت:۱۶) | | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان : اے زما ځويه! بدي اګر که د ورې د دانے همره هُم وي، بيا هغه که د ګټانو په ختړ کښې وي يا په آسمانونو کښې يا په زمکه کښې چرته هُم وي، الله به هغه راوړي. |

يعني اے زما ځويه! بدي که د ورې د دانے همره (بالکل وړه شان وي) وي، بيا د دومره وړې کيدلو سره سره که هغه په څنګه ځائے کښې هُم وي، که هغه ځائے هر څومره پټ وي، مَثَلًا که د ګټانو په ختړ کښې وي يا په آسمانونو کښې وي يا په زمکه

کښې وي، هغه بدي هيڅ کله هُم د **اللّٰه** پاک نه نه شي پټيدے، **اللّٰه** پاک به په ورځ د قيامت هغه بدي حاضره کړي او د هغې حساب به فرمائي. (1)

## په اعمال نامه کښې به هر څه موجود وي

آه! هغه وخت ...! آه! هغه د قيامت ميدان ...! چې کله به نمر په پاؤ باندې يو ميل باندې وي او اور به وَرَوِي، د تانبے تَوده سره زمکه به وي، خلق به د ګرمئ نه بے تابه او په خَولو کښې به لامده وي، بعضې خو به په خپلو خوَلو کښې غوپې خوري، د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر قيامته پورې راتلونکي ټول انسانان به په ميدانِ محشر کښې موجود وي، آه! هغه وخت به زمونږه اعمال نامه زمونږ په لاس کښې راکړے شي...! آه! افسوس! افسوس! مجرمان او ګنهګاران به چې کله خپله تکه توره، د ګناهونو ډکه اعمال نامه اُووِيني نو په ارمان او پښيمانتيا به اُووائي:

| | |
|---|---|
| يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّ لَا كَبِيْرَةً اِلَّاۤ اَحْصٰىهَا ۚ (پ: ۱۵، کهف، ۴۹) | [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان : هائے زمونږه خرابي! په دې اعمالنامه څه شوي دي چې دې هره وړه او غټه ګناه ګيره کړې ده. |

د مسلمانانو دوئيم خليفه اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ يو ځل په خُطبه کښې اُوفرمائيل: اے خلقو! تاسو د حساب اخستلو نه مخکښې خپل حساب اوکړئ او د اعمال تللو نه مخکښې د خپلو اعمالو وزن اوکړئ! د هغه ورځې

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ: 21، سورۂ لقمان، زیرِ آیت: 16، جلد: 7، صفحہ: 493۔

تياري اوکړئ په کومه ورځ به چې تاسو ټول د الله رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ په بارګاه کښې پيش کيږئ، په هغه ورځ به په تاسو کښې د چا يو پټ حالت هُم پټ نه شي پاتې کيدے. (1)

## د معمولي شان بے پرواهئ انجام

حضرت حارِث محاسبي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يو کس به د غَلې (يعني غنمو، جُوارو وغيره) پيمانه کولو [يعني تَلَلو] کار کولو، بيا هغه دا کار پريښودو او د الله پاک په عبادت کښې مشغول شو، چې کله هغه وفات شو نو د هغه د کور د کسانو نه هغه چا په خوب کښې اوليدو نو تپوس ئې ترينه اوکړو: مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني الله پاک تا سره څه مُعامَله اُوفرمائيله: هغه اُووئيل: زما هغه پيمانه (يعني تَله وغيره) د کومې په ذريعه به چې ما غَله ناپ کوله، (زما د بے احتياطئ په وجه) په هغې کښې څه خاوره شان ننبتي وه، ما بےپرواهي اوکړه او هغه مې صفا نکړه، چنانچه! ما به چې کله هُم غَله ناپ کوله نو د هغه خاورې په مِقدار به غَله کمه وزن کيدله، پس د هُم هغه قصور په سبب په عِتاب کښې ګرفتار يم.

اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! په ظاهره يوه معمولي شان بےپرواهي جَنَّت ته د داخليدلو نه رُکاوټ جوړه شوه، لِهٰذا! زمونږ د ژوند يو يو ساعت قيمتي دے، مونږ چې څه وايُو، څه چې اَورُو، څه چې کوو، دا ټول زمونږه په اعمالنامه کښې محفوظه کيږي، صبا په ورځ د قيامت به دا هر څه زمونږ په وړاندې کيښودلے شي. آه! که مونږ نه د ګناهونو حساب واخستے شو نو زمونږ به څه کيږي؟ هائے! نن که زمونږه ژبه خوزيږي نو بے سوچه روانه وي چليږي، زمونږ د ژبو نه دروغ، غيبتونه، چُغلئ، د خلقو زړه ازرول او معلومه نه ده کوم کوم ګناهونه کيږي، مونږ د خپل نظر په حفاظت کښې هُم

---

1... مصنف ابن ابی شیبہ، کتاب الزہد، جلد:8، صفحہ:149، حدیث:18۔

پوره کامیاب نه یُو، خپل غوږونه هُم د بدو خبرو اوریدلو نه نه شو ساتلے، او نور هُم معلومه نه ده چې شپه او ورځ رانه کوم کوم ګناهونه کیږي، آه! دا کمزورے بدن، او هائے! هائے! د جَهنَّم هغه سخت ترین عذابونه...! آه! که د قیامت په ورځ زمونږ اعمال نامه بیرته کړے شوه او زمونږ نه حساب واخستے شو نو زمونږ به څه کیږي...!!

## نیو ائیر نائټ (New Year Night)او د بدتمیزۍ طوفان

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! نوے عیسوي کال یعنې 2022 راتلو والا دے. چې خنګه په 31 دسمبر د شپې 12 بجے شي نو د "نیو ائیر نائټ (***New Year Night***)" [یعنې د نوي کال د وړومبۍ شپې] په نوم باندې به د بد تمیزۍ یو طوفان راشي، اَلاَمَان وَالْحَفِيْظ! بِالخصوص ځلمي خو ډیر زیات بے کنټروله شي. ۞ د سندرو او ګډاګانو محفلونه شروع شي. ۞ شراب څښل شي ۞ جواري کیږي ۞ چې د شپې 12 بجے شي نو کروړاؤ روپۍ د آتش بازۍ په نوم تباه کړے شي. ۞ هوائی ډزې کیږي ۞ بے هُوده ځلمي په سړکونو باندې قِسما قِسم مستیانې شروع کړي. ۞ ډیر ځلمي خو د وَن وِیلنګ (***One Wheeling***) [یعنې په یو ټائر باندې د موټر سائیکل چلولو] په وجه د مرګ خُلې ته لاړ شي.

## د "نیو ائیر نائټ" د پروګرامونو تباهیانې

د "نیو ائیر نائټ" [یعنې د نوي کال د وړومبۍ شپې] په نوم باندې کیدونکو فنکشنو (***Functions***) [یعنې د ګډا او سندرو په پروګرامونو کښې] ډیر خلق د زهرژنو شرابو څښلو یا هوائی فائرنګ په وجه یا د آتش بازۍ په نتیجه کښې په اور اوسوزي او مړه شي. د مختلفو خبرونو مطابق ۞ پیراګوئے کښې د نیو ائیر نائټ د آتش بازۍ په نتیجه کښې 400 کسان هلاک او په سوونه زخمي شو ۞ بیونس آئرس نومې یو ښار کښې د نوي کال په خوشحالۍ کښې د موسیقۍ په یو پروګرام کښې آتش بازي اوکړے شوه چې د هغې

په سبب 300 کسان هلاک او 500 نه زيات زخميان شُو ۞ برطانيه کښې د 2020 د نيو ائير نائټ په موقع د آتش بازئ په وجه 1362 کسان مُتأَثِّره شُو، په هغوئي کښې د ډيرو اندامونه بےکاره شُو ، 40 کورونو اور واخستو، 500 ګاډي تباه شو او 4 زره او 825 څناور اوسويزدل مره شو ۞ د يو سروے مطابق د نيو ائير نائټ په موقع صرف امريکه کښې د 171 ارب ډالرو شراب څښل شي، د 600 ملين ډالرو آتش بازي کيږي او اربونه ډالره د ګډا او سندرو په کلبونو کښې والوَځوي.

جہاں میں ہے عبرت کے ہر سو نمونے مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بو نے

کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تو نے جو آباد تھے وہ مکاں اب ہیں سُونے

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے

یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

په جهان کښې هر طرف ته نمونے دي د عبرت خو ته روند کړې د دنيا فاني دولت

محلونه چه پخوا وو کوم آباد غور اوکړه ټول پراته دي اوس برباد

دا دنيا د زړه لګولو ځائے نه دے ځائے د عِبرت دے د تماشو ځائے نه دے

## نيو ائير نائټ څنګه مناوول پکار دي...؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! هسې خو اسلامي کال د مُحَرَّمُ الْحَرَام نه شروع کيږي. او چې څنګه شروع شي نو زمونږ په زړونو کښې د مسلمانوں د دوئيم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت سَيِّدُنا عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د تقوىٰ و پرهيز ګارئ او عشقِ رسول، او د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د عدل و انصاف ياد تازه شي. بيا د دې سره سره زمونږ په زړونو کښې د شُهَدائے کربلا، بالخصوص د امامِ عالى مقام، امامِ عرش مقام حضرت سَيِّدُنا امام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دين سره محبت او د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دِين د پاره د قربانو ورکولو ياد تازه شي او دغسې د اسلامي کال شروع مونږ ته غفلت نه د بيداريدلو پيغام را کوي.

بهر حال! كه څوک د عيسوى تاريخ په اعتبار سره هُم د نوي كال استقبال كول غواړي نو د دې هُم ډيرې جائِزې بلكه د نيكئو ډكې طريقے كيدے شي مثلاً ۞ د نوي كال د شروع نه د فِكرِ آخرت دَرس حاصِل كړئ يعنى دا غور اوكړئ چې ”زما د ژوند نه يو كال كم شو او زه مرګ ته نور نزدے شوم، دې سره سره چې كوم كال تير شو د هغې جائزه هُم واخلئ چې ما څه نيكئ اوكړې او څه ګناهونه رانه اُوشو.“ ۞ د نوي كال د شروع كيدو په موقع باندې پكار ده چې مونږه د خپلو ګناهونو نه توبه اوكړو ۞ د نوي كال شروع په نيكو اوكړو ۞ د ذِكرُ الله نه شروع اوكړو ۞ نعت خوانئ نه شروع اوكړو ۞ د لمانځه او سجدو نه شروع اوكړو ۞ ښه ښه نِيَّتونه اوكړو مَثَلًا *..دې راتلونكي كال كښې به دومره تلاوت كووم*..دومره دومره درودِ پاک به وايم *..دومره نفل لمونځونه به كووم *..كه قضا لمونځونه په چا وي هغه دِ د هغې زر تر زره د ادا كولو نِيَّت اوكړي *..رَمَضَانُ الْمُبَارَك راتلو والا دے، د اعتكاف نيت اوكړئ *..هره مياشت په مَدَني قافِله كښې د سفر نِيَّت اوكړئ *.. د نيكو اَعمالو په رساله كښې روزانه پابندئ سره د خپلو اعمالو د جائزے اخستلو نِيَّت اوكړئ *..هفته واره د سُنَّتو ډكه اِجتِماع او هفته واره مَدَني مذاكره كښې پابندئ سره د شركت كولو نِيَّت اوكړئ.

## نيو ائير نائټ او مَدَني مُذاكره

نيو ائير نائټ (*New Year Night*) [يعنې د نوي كال وړومبئ شپه] په نيكو كښې د تيرولو يوه بهترينه طريقه دا هُم ده چې اَلْحَمْدُ لِله! شيخِ طريقت، امير اهلسنت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دې شپه عموماً مَدَني چينل باندې براهِ راست مَدَني مُذاكره فرمائي، د عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه (كراچئ) نه علاوه هُم عاشقانِ رسول مختلف مقاماتو كښې جمع كيږي او په دې شپه مدني مذاكره كښې شركت كوي او د الله پاک د رحمتون حاصلولو كوشش كوي، لِهٰذا مدني مذاكره

کښې د شرکت کولو تر اوس نه نِیَّت اوکړئ! عِلمِ دین زده کړئ! که اللّٰه پاک ته منظوره وه نو د نوې کال په نوو ساعتونو کښې به ډېر ډېر بَرَکتونه درنصیب شي، کاش! چې مونږ ته د غفلت نه بیدارې رانصیب شي، اللّٰه پاک دِ مونږ ټولو ته د نیک جوړیدلو، د نیکو کولو او د وخت د قدر پیژندلو او د وخت د قدر کولو توفیق رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د سُلطان باھُو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ کا ذِکرِ خیر

اے عاشقانِ رسول! د اسلامي کال شپږمه میاشت جُمَادَی الۡاُخۡرٰی راتلو والا دہ، د جُمَادَی الۡاُخۡرٰی په یکم تاریخ د پنجاب (پاکستان) د ډېر مشهور و معروف بزرګ سلطان العارِفِین شیخ سلطان باھُو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ عرس مبارک وي، په یکم جُمَادَی الۡاُخۡرٰی د شیخ سلطان باھُو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د ایصالِ ثواب اهتمام هُم اوکړئ! د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنه یوه ډېره ښکلې رِساله ده: فیضانِ سلطان باھُو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ دا رساله هُم اولولئ! اوس راځئ چې د سلطان باھُو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ یو سبق آموز نصیحت هُم واورو:

## د عِبرت او نصیحت 5 مَدَني ګلونه

شیخ سلطان باھُو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: د راهِ سُلُوک (یعني د حق، د نیکو په لاره) باندې تلونکي کس باندې پینځه خبرې لازمي دي: (1): د شپې دِ په یواځې ځائے کښې د اللّٰه پاک په یاد کښې مشغول اوسي (2): په زړه کښې دِ د اللّٰه پاک محبت پیدا کړي (3): هره شپه دِ د قَبۡر شپه اوګڼړي (4): چې کله ورځ را اوخیژي او خلق د خوبه بیدار شي نو داسې تَصَوُّر دِ اوکړي چې ګویا دا د قیامت ورځ ده او دا د قَبۡر نه راوتلے دے او ولاړ دے (5): هره ورځ دِ ځان د پاره د قیامت ورځ اوګڼړي او د خپلو اَعمالو دِ پخپله محاسبه کوي۔[1]

[1]...مناقبِ سلطانی، صفحہ:251۔

## دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار "هفته واره اجتماع"

اے عاشقانِ رسول! د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره ترون اوكړئ او د ذِيلي حلقے په 12 ديني كارونو كښې په اخلاص سره خپل كردار ادا كړئ او د ډېرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح په كوشش كولو كښې مصروفه شئ.

په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار "هفته واره اجتماع" هم ده. په كومه كښې چې تاسو اوس شريك ئې، تاسو تلاوت، نعت واوريدلو، اوس د بيان سلسله جاري ده، د دې نه پس هفته واره اجتماع كښې مخصوص دُرودِ پاك لوستلے كيږي، ذِكر و دُعا به كيږي، بيا به اِنْ شَآءَاللّٰه د [سُنَّتو او آدابو] زده كولو او نورو ته د ورزده كولو حلقے لګي او دغسې به دا علمي او روحاني فضا قائمه وي، كه اللّٰه پاک ته منظوره وه نو په هفته وارو اجتماعاتو كښې د شركت په سبب به زمونږ په زړونو كښې د ګناهونو نه نفرت او د نيكو كولو رغبت زياتيږي، نو نِيَّت اوكړئ چې هره هفته واره اجتماع كښې به ځپله هُم شريك كيږو او نورو ته به هُم د شركت كولو دعوت وركوو او ځان سره به ئې د راوستلو كوشش هُم كوو. راځئ چې د هفته وارې اجتماع يو مَدَني سپرلے واورو،

## د ټيبل ټينَس شوقين ځنګه په لاره راغلو...؟

د كراچئ اوسيدونكي يو اسلامي ورور بيان دے چې هغه د مذهبي ذِهن نه لرلو په وجه په فضولياتو كښې شپې او ورځې تيرولې، د ګناهونو سلسله هم وه، او هغه د ټيبل ټينَس ډير شوقين هم وو، د مابنام شروع كيدلو سره به په ټيبل ټينَس كښې مصروفه شو او د شپې ناوخته پورې به دا سلسله جاري وه، يو ځل د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته اسلامي ورور هغه ته او هغه سره لوبې كوونكو ته د لَمانځه ادا كولو او هفته واره د سُنتو ډكه اجتماع كښې د شريك كيدلو دعوت وركړو، آخر د ټيبل ټينَس

شوقين هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې شريك کيدل شروع کړو، د هفته وارې اجتماع په برکت ئې په قلاره قلاره زړه نرم شو، د هغه د زړه تور والے لرې شو، او هغه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه او د دعوتِ اسلامي پاکيزه ديني ماحول سره وابسته شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. (1)

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰی |

## د خبرو اترو سُنَّتونه او آداب

فرمانِ آخری نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چې کله ته يو بنده اُووِينې چې هغه ته د دُنيا نه بے رَغبَتي او د کمو خبرو کولو نعمت ورکړے شوے دے نو د هغه نزديکت او صُحبت اختيار کړه ځکه چې هغه ته حِکمت ورکولے کيږي. (3)

---

1...جامع بيانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1 صفحه: 201، حديث: 220۔

2...وسائل بخشش، صفحه: 118۔

3...اِبنِ ماجہ، کتاب الزہد، صفحہ: 667، حدیث: 4101۔

اے عاشقانِ رَسُول! ❀ په مُسکا او په خوش اخلاقئ خبرې کوئ. ❀ د مُسلمانانو د زړه ساتلو په نِيَّت ورو ورو سره مهربانئ او د مشرانو سره د ادب انداز اختيارکړئ اِنْ شَآءَالله د ثواب ګټلو سره سره به د دواړو په زړه کښې ستاسو عِزَّت هُم پيدا شي. ❀ په تيز تيز آواز کښې خبرې کول، ځنګه چې نن صبا په آزادئ سره دوستان په خپل مينځ کښې کوي، سُنّت نه دي. ❀ که د يوے ورځې ماشوم وي نو د هغه سره هم د ښو ښو نيّتونو سره په جناب، تاسو [يعني د ادب په الفاظو] کښې د خبرو کولو عادت جوړ کړئ ستاسو اخلاق به هم اِنْ شَآءَالله ښه کيږي او ماشوم به هم آداب زده کوي. ❀ د خبرو اترو په وخت کښې د پردے ځائيونو ته لاس لګول، د ګوتو په ذريعه د بدن نه خِيرى ولا ړول، د نورو په مخکښې ساعت په ساعت په پوزه يا غوږ کښې ګوته وهل، يا ساعت په ساعت لا ړې تُوکل ښه خبره نه ده، د دې نه نورو ته کرکه ورځي. ❀ ترڅو پورې چې بل خبره کوي نو په اِطمينان سره ئې اورئ، د بل خبره کټ کول او خپله خبره شُروع کول سُنّت نه دي. ❀ د خبرو اترو په دوران کښې بلکه په هيڅ حالت کښې هم قَهقَهَه مه لګوئ [يعني په دومره آواز خندا مه کوئ چې بل ئې اوريدے شي] ځکه چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هم قَهقَهَه نه ده لګولې. ❀ ډيرو خبرو کولو سره او ساعت په ساعت قهقَهَه لګولو سره رُعب ختميږي. ❀ فرمانِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "**خوك چې خاموشه پاتې شو هغه خلاصے اوموندو.**" په مِراٰةُالْمَنَاجِيح کښې دي: **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سيِّدُنا امام محمّد غزالی رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: چې د خبرو اَترو څلور قِسمونه دي: ﴿۱﴾ خالص مُضِر (يعني مُکمّل نُقصان ورکوونکې) ﴿۲﴾ خالِص مُفيد (يعني مُکمّل فائِده مندې) ﴿۳﴾ هُم مُضِر (يعني نقصان ورکونکې او) هُم مُفيد [يعني فائِده مندې] ﴿۴﴾ نه مُضِر نه مُفيد. د خالِص مُضِر (يعني مکمل نقصان ورکوونکې) نه هميشه پرهيز ضروری دے، خالِص مُفيد کلام [يعني مکمل فائِده مندې خبرې] ضرور کوئ، کومه خبره چې مُضِره هم وي او مُفِيده هم وي د هغې په کولو کښې اِحتياط پکار دے او غوره دا ده چې اونکړے شي او د څلورم قِسم خبرې کول وخت ضائِع کول دي. په دې خبرو کښې فرق کول مشکل دي لهٰذا خاموشي غوره ده. ❀ د چا سره که څه خبرې اترې کول وي نو د هغې څه صحيح مقصد هم پکار دے او هميشه د مخاطب د مرتبے او د هغه د نفسياتو مطابق خبرې کول

پکار دي ❀ بیهوده او د بے حیائي د خبرو نه هر وخت پرهیز کوئ، د کنزلو نه اجتِناب [یعني ډډه] کوئ او یاد ساتئ چې هر مسلمان ته بِلا اِجازتِ شرعي کنزلې کول قطعي حرام دي. او د بے حیائي خبرې کوونکو باندې جَنَّت حرام دے. حضورِ تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي:"په هغه کس جَنَّت حرام دے څوك چې د فُحش کوئ (یعني د بے حیائے د خبرې) نه کار اخلي." د فُحش خبرې معنٰی ده: اَلتَّعْبِيْرُ عَنِ الْاُمُوْرِ الْمُسْتَقْبِحَةِ بِالْعِبَارَاتِ الصَّرِيْحَةِ یعني د شرمناکو اُمورو (مَثَلًا د ګنده او بدو معاملاتو) په ښکاره الفاظو کښې تذکره کول.(1)

مختلف سُنَّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه بهارِ شریعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شیخِ طریقَت، اَمیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 100 صفحو کتاب 550 سُنّتیں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربیَّت یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قَافِلو کښې عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هُم دے.

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
اوګټئ ډیر رحمتونه قافِلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

اے زمونږه خوږه الله پاکه! مونږ ته اخلاص سره د عمل کولو توفیق رانصیب کړې." اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... 550 سنتیں اور آداب، صفحه: 34۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۂ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵